مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نوزادي ۲۰۲۲/۱۲/۲۱

يلدا ، ولي او څنګه

نن د يلدا شپه چې يادونه يې تل په شعري او بيلا بيلو فرهنګي ارزښتونو سره کيږي ، په مخکې لرو . د يلدا تر دالۍ نه وړاندې د لاندې څو کرښو لوستل اړين بولم:

فکر کوم نژدې ټول لوستي کسان پدې پوهيږي چې د يلدا شپه د ژمي په موسم کې تر ټولو اوږده شپه ده او اکثره د مينې په اور سوي ځوانان دا هيله لري چې د واده مراسم د دغې شپې تر را رسيدو پوري و ځنډوي څو د واده شپه د يلدا په غيره کې اوږده تيره او همدارنګه پر خپلې لومړنۍ لور باندې د يلدا نوم کښيږدي .
زما په خيال دا چې ولې يلدا تر ټولو اوږده شپه ده ، ډيرى لوستي کسان لا هم پدې نه پوهيږي چې ولى او څنګه خداى پاک دا شپه تر ټولو اوږده پيدا کړيده . په همدې خاطر غواړم په څو کرښو کې اړين مالومات ور سره شريک کړم:

پدې خو ټول پوهيږو چې د ځمکې کُره دوه ډوله حرکتونه لري . وضعي حرکت يې پر خپل محور څرخيدل دى چې شپه او ورځ ور څخه زيږي . په انتقالي حرکت کې ځمکه د لمر پر شاوخوا پر بيضوي خط څرخي او پدې سره د کال څلور فصلونه دالۍ کوي . پدې لاره کې ځمکه په کال کې دوه ځله خپل د استوا خط لمر ته څيرمه کوي چې د وري) نوى کال (او وړې مياشتو د لومړۍ نيټو) د مارچ او سپتمبر يويشتمو نيټو (سره سمونه لري . پدغو نيټو د ځمکې پر ټوله کره شپې او ورځې برابرې دي . همدارنګه ځمکه په کال کې يو يو ځل خپل شمالي او جنوبي قطبونه لمر ته مخامخ کوي . د ډيسمبر پر يوويشتمه نيټه) جدي لومړۍ نيټه (يې جنوبي قطب لمر ته څيرمه وي چې په جنوبي نيمه کره کې ورځ تر ټولو اوږده او شپه تر ټولو لنډه وي . پدغه نيټه په شمالي نيمه کره کې شپه تر ټولو اوږده او ورځ تر ټولو لنډه وي . د جون پر يوويشتمه بيا شمالي قطب لمر ته څيرمه او په شمالي نيمه کره کې ورځ تر ټولو اوږده او شپه تر ټولو لنډه وي . پدغه نيټه په جنوبي نيمه کره کى بيا خبره برخلاف ده ياني ورځ تر ټولو لنډه او شپه تر ټولو اوږده ده .
تر دغه لنډ مالومات وروسته دا تاسي او دا هم د يلدا شپې دالۍ:

د يلدا په ياد

بسکلى خوب غوندي را ياد ده
لکه نن شپه چې يلدا ده

ته هم ځوانه ، زه هم ځوان وم
ته هم ګرانه ، زه هم ګران وم

ستا د غاړې هار مې و نيو
د وريښم له تار مې و نيو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډاريـدلـي چـي بـه شکيـږي
پـه هـر لور بـه پـاشل کـيـږي

مـا بـه ځـان تـه را بـلـلـي
تـه پـه ځسن نـازيـدلـي

ځـواني نه وه ، ماشومتوب وو
سر تـر پـايـه ليونتـوب وو

اوس يلدا سته ، ځـواني ولاړه
هـغـه هـار دي لا پـه غـاړه

يـادوي راتـه يـلـدا شپـه
د ځـوانۍ او د بنـکلا شپـه

لـنـډکـۍ يـوه شـيـبـه وي
ځـومـره بنـکلي خاطـره وي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ